# ژوند جانان

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

علي اکبر سالک

## زما کتاب زما به وی


دَ کتاب نوم ـــ ژوند جانان

دَ لیکونکی نوم ـــ علی اکبر سیال

ځائے ځګے ـــ بټ خیله، ملاکنډ ایجنسی

تعلیم ـــ ایم اے، (پښتو)

پیداوښت ـــ ۶۳-۱-۳

دَ چهاپ شمیر ـــ یو زر (۱۰۰۰)

دَ چهاپ کال ـــ دسمبر ۱۹۹۵ء

بیعه ـــ ۵۰ روپئ

کتابت و سرپانړه ـــ ق-ع-آصف (پنډی)


PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## خورونکی اداره :

- پښتون کلچرل ایسوسی ایشن "رجسټرډ"، (پی سی اے)، اسلام آباد

## د مونډلو درکونه :

- پښتو ادبی سوسایټی "رجسټرډ" اسلام آباد۔
- پښتو ادبی جرګه، ملاکنډ۔
- پښتانه ادبی ملګری (پام)، بټ خیله۔
- جمشید علی خان، انکم ټیکس، مردان۔
- محمد امین خان، کسټم، پیښور۔
- غلام حیدر خان/ شیر افسر خان، سوات ماربل انډسټری، آئی ناین، اسلام آباد
- طاهر خان، نوشیر خان، طاهر خټک، محمد شعیب یوسفزی، شانمه حلیم، حفیظ خټک، عمر دراز" اسلام آباد۔

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

# ټړون

د هغه زلمو او میرمنو په نوم
څوک چه د خپلې ژبې، ادب او ثقافت
روزنه او پالنه خپله مقدسه او مقدمه
ذمه واري ګڼي

PUKHTO.NET

# سریزه

هر ادبي تخلیق د ژوند خیالي تصویر وي - او په خیالي تصویر او عین حقیقت کښې ډیر فرق وي - هم له دې کبله د یو لیکوال په حقیقي ژوند او د هغه د ژوند په هغه تصویر کښې چه هغه ئې خلقو ته وړاندې کوي ، تضاد وي - او کله نا کله خو شاعرانه مبالغه د لیکوال خپله شهره بالکل پټه کړي - دا یقیني خبره ده چه شاعر او ادیب د خپل چاپیرچل ادراک او احساس د نورو خلقو نه زیات لري او دغه ادراک او احساس هله فنکارانه انداز اخلي چه د هغې په بیان کښې مبالغه هم راشي، د ټکو سره لوبې هم او د خیال ښایسته ترتیب هم - او هم دغه وجه ده چه په هر ادبي تخلیق کښې افسانوي رنګ غالب وي - دا افسانوي رنګ په برصغیر کښې د ترقي پسند ادبي تحریک په ذریعه یونه په شعر و ادب کښې نور هم زیات خور شوې دې - ځکه چه دلته د غربت او افلاس د علامت په توګه ښو ښو شتمنو ادیبانو هم خپل ذات وړاندې کړې دې - او دا ضروري هم وه - دا ځان له اوږد بحث دې - چه دا مبالغه ولې ضروري وه - خو مختصراً دا چه په معجزو، کراماتو او پراسراریت یقین لرونکي ټولنه کښې دا مبالغه ضرورت وه - د ترقي پسندۍ په دې پله کښې داسې ادیبان هم وو چه هغوی نیغ په نیغه د چقیدلو طبقو سره تعلق لرو - نو دا ظاهره خبره وه چه د هغوی په ادبي تخلیقاتو کښې د مبالغې رنګ ډیر خور نه شو - او سیال هم د دغه ټولي یوغړې دې -

زه دا نه شم ویلې چه سیال صیب د خپل کتاب د سریزې

PUKHTO.NET

د اعزاز د پاره زه ډیر غوره ګڼم. خو دا به ضرور اووایم چه زه د خپل ځان نه پس کوم سړے "بنه" پیژنم هغه سیّال دے. زما او د سیّال صیب ادبي، سیاسي، ذاتي او د مخلوقو هلے ځلے همیشه شریکے پاتے شوے دي. لوګیمے شي چه د هغه زما نه دا توقع وي چه دَ دے هر څه په رڼا کښے به زه د هغه په ادبي تخلیقاتو بنه اووښیلے شم. خدائے دِ اوکړي چه زه د موضوع سره انصاف اوکړے شم. هسے زمونږ د سیمے یو خوش قسمتي ده چه د پښتو ادب د تاریخ سازو ... عظیم رانیزئي او حافظ الپوري غوندے خزانے په خپله سینه کښے لري. او د ننني دور رحمت شاه سائل هم د دے خاورے په سینه ژوند کوي. سیّال او زه دواړه دَ سائل صیب د مکتب لیکوال یو. د سائل صیب یو ژور اثر د ټولے پختونخوا په ژلمو شاعرانو ادیبانو په عمومي توګه او د ملاکنډ د سیمے په ځلمي کول په خصوصي ډول یوه فطري خبره ده. او د "ژوند جانان" د دے هنداره ده. سیّال د سائل صیب ژور اثر قبول کړے ضرور دے خو بیائے په فکري او فني توګه ځان له خپله لاره هم ایستلے ده. او د ځلمي کول د یو نمائنده شاعر په توګه ئے ځان ښکاره کړے هم دے. او ثابت کړے هم. دَ ده دَ دے ادبي کوششونو په باب له زه صرف دومره کولے شم چه په "ژوند جانان" کښے دَ موجودے شاعرئ رنګونه، ټکل لوستونکو ته صرف وړاندے کړم. په هغے تبصره کول د لوستونکو حق او فریضه ده. د شاعرئ د نمونے نه وړاندے به په هغه موضوع خبره اوکړو، کومه چه مونږ شروع کړے وه او لا نیمګړے پاتے ده.

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

لکه په مخکښې کړښو کښې چه موږ وړې، سیال د ترقي پسندانې تحریک د هغې رجحان نمائنده دے چه د محنت کشو ټبغ په نیعریو حصه ده. او غالباً هم دا وجه ده چه سیال چه څه وائي هغه حقیقت دے او حقیقت هم دا سے چه د مبالغې هیڅ قسمه ذائقه پکښې نیشته هن بعضې خبرے دا سے دي چه که هغه بل چا کړے وے نو ملاوټ به وو. خو د سیال د قلم د غه مضمون تول په تو له ریښتیا دي د مثال په توګه د "زما کلے" د سرخط لاندے یو وړو کے نظم ورانده کووم - وائي

ما یو ملګري ته ویل ما وے زمونږ کلے
د سپینو واوړو، شو او لو د سرو ګلو نو کلے
د ډنګو ډنګو هسکو غرونو د لمن غیږه کښې
څومره ښائسته دا د چینو او د سیندونو کلے
وے ئے سیال ته بنه روغ ئے لیونے خو نه ئے
دا د خانانو ملکانو د ښیکونو کلے
ته پکښې نه لرے د یو ګل د کرلو زمکه
څنګه کیدے شي دغه ستا د ارمانونو کلے

○ ○○ ○

د خپل کلي کومه نقشه چه سیال راښکلے ده، تکی په تکي صحیح ده او هیڅ قسمه ملاوټ پکښې نشته. د دے ټول نظم په مضمون کښې صرف یوه ګړه ده او هغه هم د فني مجبوري په وجه. او هغه دا چه د نظم د مضمون نه د مکالمے جوړولو د پاره هغه د ځان سره یو ملګرے را شریک کړے دے خو دا به یقیناً لوستونکي هم ګړه

یا ملاوټ او نه ګنړي. بل طرف ته دا هم تکي په ټکي حقیقت دے چه هغه په دغه ښکلي کلي کښې د ګل د کرلو ځائے هم نه لري او یوائے دا نظم نه د سیال په ټوله شاعرۍ کښې د دے قسم مبالغه یا ګډه نه شي موندے کیدے. هغه ځکه چه هغه د دغه احساس یا کیفیت سره نا آشنا نه دے کوم چه د غریب خیلو به برخه کښې لیکلے دے.

د پښتنو زلمو دا نمائنده شاعر که څه هم د دغه افلاس په تیارو کښې ډوب پاتے شوے دے خو دے د همت، هلو ځلو اخلاص او محنت د رڼا ګانو نقیب دے. مونږ تاسو دا تصور هم نه شو کولے چه هغه سیال چه همیشه ئے د خندا نه ډکه خوله وړے ده، په خپل ژوند کښې د څومره سختو سره مخ شوے دے هغه سړے چه همیش ئے په خلقو کښې د غمونو رنګونه ویشلي دي پخپله ئے د څومره پیکه تجربو سره ژوند کړے دے خو د دے احساس ئے هیڅ چاله نه دے ورکړے. سیال د خودداري او عزتِ نفس داسے هنداره ده چه کم از کم ما ترے خپل ژوند له ډیره رڼا اغستے ده. د سیال په شاعرۍ کښې افسانوي رنګ ډیر کم دے خو د هغه خپل کردار افسانوي دے او افسانوي به څنګه نه وي چه د هغه د طبقے خلق چه کله د خپلو متو په زور او د خپلو ارادو په توان اعلی تعلیم حاصل کړي او په دغه لاره کښې همیشه هسک سر پاتے شي او ځان له یو داسے عزت او مقام او ګټي چه یو شتمن ئے هم په خپلو جاګیرونو او دولتونو سره نه کړي نو دا به څنګه مثالي او افسانوي کردار نه وي؟

دا ټول هغه پس منظر دے چه دَ دے سره او صرف دَ

PUKHTOG.NET

دے سره برغه د سیال شاعري اوکتے شي نو دَ هغې په جوهر خلق پوهیدے هم شي او خوند تر هم اخستے شي۔ نو راځئ چه په دے تناظر کښې دَ "ژوند جانان" شاعري اوګورو۔

په دے کتاب کښې سیال د خپلې شاعرئ یوه برخه راغستے ده او هغه ټول اصناف چه هغه پکښې طبع ازمائي کړیده دَ هغو نمونے ئے پکښې ځائے کړي دي۔ په "ژوند جانان" کښې واړه او لوے نظمونه، سندرے او غزلے شاملے دي۔ دَ نظمونو نه دَ شاعر د فکري ژورتیا اندازه لږیدے شي۔ لکه په یو وړوکي نظم کښې چه سرخط ئے "ژوند" دے۔ وائي :

ژوند دَ خیالونو شهزادګئ ده
که یو سکوت حقیقت
ژوند دَ جانان دَ سترګو خوب دے
که شوګیر دَ منزل
ژوند دَ احساس دَ اوربتئ ده
که مستي دَ ځوانئ
زما ملګرو په زما خوب منو !
زه خو دَ ژوند په معنی پوهه نه شوم
زه دَ ژوندون دَ ژرندے پل پیژنم
زه خو زیرګے دَ خپل کوګل پیژنم

○○○○

یو بل وړوکے نظم چه عنوان ئے دے "غنچے" دَ شاعر دَ فکر دَ پوخوالي غمازي څه دا رنګه کوي۔ وائي :

د رونړ صبا د ګل سحر د مسکیتوب په ارمان
داسے مے کله کله ځان د ځوانۍ فکر یوسی
لکه یوه پیغله جینۍ د بلے پیغلے سره
په سره ټولۍ کښے چه د خپلے ټولۍ فکر یوسی

○ ○ ○ ○

هم دغسے د سیال صیب نور واړه واړه نظمونه د هغه د خیال د ذیلو نښے ورکوي چه پکښے پیغلے سترګے، تنده، بے کرنو دنیا، د بارودو غیږے، جبر، لوګے سپیلنے او نور ښایسته ښایسته نظمونه شامل دي۔

پښتو ژبه چه په خپل ادبي اړخ کښے د نورو ژبو نه امتیازي اړخونه لري او لکه د نورو ژبو خپل اولسي ادب (فوک) لري۔ سندره د پښتو ژبے یو داسے کالے دے چه د پښتو ناوے پرے ښایسته ده۔ سندره د خمودے نه شنډه پاتے وه او د پښتو اولسي ادب دا لویه سرمایه او سوچینه ورو ورو په ورکیدو وه۔ محترم سائل صیب د پښتو دا په زړه پورے صنف بیا راژوندے کړو او ډیرے ژوندۍ سندرے ئے اولیکلے۔ د دغے نه پس اوس زمونږ ټول ځلمي شاعران سندرے لیکي او د اولس دغه خزانے خلقو ته ور رسوي۔ سیال هم یو سندره بولے ځلیے شاعر دے۔ او زما په خیال په سائل صیب پسے د خو سندرو خالق دے۔ د پښتو ادب یو ځلاند ستورے او د جنډۍ د غاړے د مست غزل سختن اکرام الله ګران صیب، چه په ادب کښے یو ډیر لوړ مقام لري، یو ځل ماته اووئیل چه "ما چه د کلمه

د سیال سندرے اوریدلی دی، نو زما سندرو لیکلو ته زړه کیږی" دا یقیناً د سیال د پاره داوګیرنه هم ده او یو لوئے مقام هم چه د ګران صیب غوندے لوئے ادبی شخصیت د هغه د سندرو په دے ټکو کښے ستاینه کوی۔

سندره فوک ادب دے او د اولسی ادب اداره په اولسی پوهه (POPULAR WISDOM) باندے وی۔ په "ژوند جانان" کښے چه څومره سندرے شاملے دی هغه واقعی د اولس په ژبه کښے دی او بنتئے د اولسی پوهے (POPULAR WISDOM) په ورشو کښے کلک ولاړ دے۔ او هم د دے نه د شاعرانداذه په آسانه لږیدے شی چه دَ ده ژبلے تو کومه حده پورے په اولسی ژوند کښے خورے دی۔ د سیال د سندرو په حقله دَ سائیل صیب وینا ده چه" دا پیرے ښے سندرے دی او دلسے معیله لری چه د مثال په توګه د ورانده کولو وړ دی" راځئ چه دَ دے سندرو څو نمونے اوګورو۔ په یو سندره کښے سیال څه داسے وائی:

دَ ارمان دَ باد چپے
ځی راځی زمونږ په لاس
دَ زخمونو غوټئ ګل
دَ دردونو لوبښار

○○ ○○

او دَ یو بلے سندرے په سر کښے څه داسے وائی:

چه د بیلتون شوګیرے ډیرے وړے شینه
راشه لږ په سترګو کښے مے خوب شه

○○ ○○

یوه بله مشهوره سندره چه پښتو موسیقۍ ښکلا قمر ګلې ورله د خپل آواز خواږه ورکړي دي، څه داسې وائي:

چه د جانان سترګو له یوسم غنچکونه
خدایه د سپرلي ګلونه ګل کړې

○○ ○○

لنډه دا چه د سیال سندرې ژوندۍ هم دي او د خپل چاپیرچل، پښتني دور دستور او اولسي پوهې نمائنده هم.

د سندرو د دې سندریزو خوندورو سره سره په "ژوند جانان" کښې چه کومې غزلې دي هغه د سیال د شاعرۍ د تعلیم یافته رجحان سرګندونه کوي. سندره خو د اولسي ادب لیوه نمائندګي ده او غزل د پښتو ادب د قبولیت (ADOPTABILITY) صفت ښکاره کوي. غزل د پښتو خپل صنف نه دے بلکه د خارجي ژبو نه پښتو ته راغلې دے. د غزل مزاج لطیف دے او ډیر رنګونه غواړي. زما په خیال د سیال سره د غه لطافت هم شته او رنګونه هم چه غزل پر ښائسته کړي. د غزلې مزاج د سندرې نه بالکل مختلف دے او دا کمال چه یو شاعر په اولسي ژبه کښې سندره اولیکي او په لطیفه ژبه کښې غزل اولیکي، څه وړه خبره نه ده. د سندرې د دې خالق شاعر غزلې، سره د څو کمزورو په مجموعي توګه ښې غزلې دي، د دې غزلو فکري، فني او ادبي معیار هم شته او پکښې د سیال خپل رنګ هم. په دې غزلو کښې که یو اړخ ته د رومان رنګ دے نو بل طرف ته پکښې فکري، سیاسي او قامي مضمونونه هم

شته - راځي چه د دے غزلونو نه يو څو شعرونه د نمونے
په طور اوګورو - د يو غزل دوه شعرونه ئے څه داسے دي :

چه د مغلو په کهنډر کښے اوسي
پښتنے ځنګه خوشحال خان پيدا کړي

په خدائے مين خلق څه کم خو نه دي
والله به پير د درد سامان پيدا کړي

○ ○ ○ ○ ○

سيال د ښائيست تعريف د يو غزل په شعر کښے څه داسے کوي:

څوک د ښائيست هرڅه معنیٰ چه کوي ښه کوي خو
زما په خيال کښے چه خوبے ستړګے په چا بچا شي

○ ○ ○ ○

د مينے درد په هرچا خوبولي او د دے اظهار هر شاعر په
خپل خپل انداز کوي - راځي چه دا يو انداز هم اوګورو :

هر څه رانه واخلے خو د مينے درد
دا نيازبين و ليسته مے د ګوګل نه شم

○ ○ ○ ○

د سيال د غزل خپل رنګ دے او که لوستونکي د هغه
د غزل دا شعرونه اوګوري نو زما سره به يقيناً اتفاق اوکړي:

د حالاتو بلا کلنے به پوهيږي
چه احساس د زړګي ولے بوربنيږي
د جانان شونډے که پاڼړے د ګل نه دي
زما زړه ولے نرے نرے ريږي

○ ○ ○ ○

او یو رنګ دا دے ۔ وائی :

دا دَ خلوت او نصیحت رنځوران
دَ شپے شراب سحر توبه اوباسی
هغه چه غم راوړی وبا خوروی
هغه دَ ګلی نه څوک نه اوباسی

○○ ○○

دَ یو غزل شعر دا سے دے چه دَ مینے دَ مجبورۍ د ټولو نه بنائیسته او په زړه پورے تشریح ده ۔ وائی :

ستا دَ کوڅے دَ کمتو ستړګے اوشوے
دَ رقیبانو په ځلئے کارګرې خلق

PUKHTO.NET

○○ ○○

دا ټولے نمونے او زما خبرے خو زما ذاتی رائے ده ۔ اصل خبره او رائے خود لوستونکو وی ۔ او زما یقین دے چه دَ دے رائے سره دَ اختلاف باوجود (که دَ چا اختلاف وی) به لوستونکی دَ "ژوند جانان" نه خوند واخلی ۔ زه لوړخه وړاندے شم خو خپلے خبرے به د محترم اکرام الله ګران صیب په دے شعرونو ختمے کړم کوم چه ګران صیب تیال ته د پیرزوینو وړاندے کوبو د پاره " دَ سندرو شهزاده " دَ سرخط لاندے لیکلی دی ۔ ګران صیب وائی:

هم ئے په ستړګو کښے دَ ژوند هم ئے خبرو کښے ژوند
په شارو ګرځی لټوی کنډو کړپرو کښے ژوند
دَ محبت مشعال په لاس تورو تیارو کښے ورګډ
لکه دَ مستو جونو خورے کړو سندرو کښے ژوند (ګران)

په ډیره مینه ذاکر

# سیال
# ژوند او جدوجهد

ښاغلے علي اکبر سیال د پښتو ژبې ژلمے شاعر او لیکوال دے - د پختون خوا د ملاکنډ ایجنسۍ په بټخیله لوړې کلي کښې په کال ۱۹۶۳ء کښې په یو محنت کشه کورنۍ کښې زیږیدلے دے - هم په دغه خاوره یې خم پوسي کړے دي او لوے شوې دے - ابتدائي تعلیم یې هم په دغه خاوره حاصل کړے دے - ګریجویشن یې د ګورنمنټ کالج تهانړې نه کړے دے - په پښتو کښې ماسټر ډګرې یې د پېښور یونیورسټۍ نه تر لاسه کړے ده - ښاغلے سیال یو قابل طالب علم وو - هغه د ابتدا نه تر ایم اے پورے ټول امتحانونو کښې فسټ پوزیشن اخستې دے -

سیال د ویښو په اَبشار کښې ولاړ
د ژوندګۍ د مخ نقشه وباسي

په هر حساسه بنده خارجي حالات مرتب کیږي - د دوران ښه او بد په ځیل داخل کښې جذب کوي - غور، فکر او سوچ پرې کوي - د دې هر څه نه روستو هم د دے عمل په رد عمل کښې د ځپل ژوند د بقا د پاره یو لار څوښوي - ولے دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې په عام انسان او یو فنکار کښې واضح فرق وي - عام وګړے د ځپل ژوند د بقا جنګ په مخه کړے وي - او فنکار د ځپل دور د ماحول غم په سر کړے وي - او لګیا وي په معاشره کښې د ظلم، جبر خلاف د انساني عظمت بقاء او ښکلا د پاره خپل خدایي ورکړې صلاحیتونه پکار راولي -

بنا غلے سیال یو فنکار دے۔ هغه فنکار چې تل د حسن په لټون وی او د مینې پامستداره وی۔ بنا غلے سیال یو باشعوره پښتون ز لمے دے۔ هغه چې د کله نه د شعور سترګې پرانستې دی نو په سماجی، سیاسی، ادبی ډګر یې د ظلم جبر بلاکالو او د تور شپې خاوندانو ته سنګر جوړ کړے دے۔ هغه د طالب علمی په دور کښې د ایم آر ډی د پلیټ فارم نه په پښتنی لهولنه کښې د طبقاتی تفاوت ختمولو د انسانی اقدارو د ودې او ترقۍ او په ملک کښې د یو عادلانه جمهوری نظام د پاره سیاسی مبارزه پیل کړے ده۔ هم په دے لاره کښې بنا غلے سیال د مختلفو پړاوونو سخته را تیر شوے دے او د مسلسل جد وجهد په برکت یې ځان د پښتو په لومړیو شخصیتونو ور پیژندلے دے

خلق دې نه کوت کوی هسے خپل تندی سیال
زه به د درد وشتې پالم دا څه دستور خونه دے

د بنا غلی سیال جذبه ډیره صفا او سپیځلې ده۔ د هغه حوصله هسکه او کلکه ده۔ هغه تل د ننګ او پت په دغه لاره سود او زیان ته نه دی کتلی۔ د جنرل ضیاء په امری دور کښې څو واره د هغه د کور خانه تلاشی شوے ده۔ ډیر ځله د جیل د تورو تمبو شاته اچولے شوے دے۔ سیال د خپلې لارے اړولو د پاره د هغه ضعیف العمر پلار له ذهنی اذیت ورکولو په خاطر د قید و بند د سوبتونو سخته را تیر کړے دے۔ ولے بنا غلی سیال دا هر څه ډیر په صبر زغم برداشت کړی دی۔ چرته یې هم په قدم کښې لرزش نه دے پیدا شوے۔

د اور بخرګی په لمن کښې نغارم
د درد تکور له مې سامان لټوم (سیال)

بناغلی سَیال په سماجي سطحه هم په ګڼو تنظیمونو کښې کار کړے دے. دَ سماجي انصاف تشه نعره یې نه ده وهلے. بلکې دَ دې خوږو دَ عام کولو د پاره یې عملي جدوجهد کړے دے. سَیال په ادبي سنګر هم چرته روستو نه دې پاتے. هغه دَ پښتو ادبي مګرې (پام) بټ خیله باني او چټک غړے دے. هم دَ دغې تنظیم دَ سورې لاندے چې څومره ادبي، ثقافتي سیمینارونه، مباحثے، مشاعرے شوې دی دَ دې پروګرامونو په کامیابۍ او کامرانۍ کښې دَ بناغلی سَیال ځېل یو کوتلے او سپیڅلې رول دے. چې دَ دغې تنظیم سره تړلي خلق یې وخت په وخت اعتراف کوي. بناغلے سَیال څو کاله دَ پښتو ادبي جرګې ملاکنډ سکتر پاتے دے. دا تنظیم هم دَ پښتونخوا هغه چټک تنظیم دے چې دَ ځېل کار له سوبه په لرو بر پښتو کښې پیژندے شي. محترم رحمت شاه سَایل، محمد اسلام ارماني ډاکټر عبدالخالق زیار، صاحب شاه صابر، فضل زمان شلمان، امیر قاسم هاشمي، بناغلے مکرم خان تبا او ملګرے ذاکر حسین ذاکر دَ دغې تنظیم په غړو کښې یاد خلق دي. سَیال چې دَ دغه تنظیم کوم ادبي خدمت تر سره کړے دے نو دَ ادبي جرګې ملاکنډ مګرې پرے اوس هم ویاړي.

ستا خال به څومره وِینه غواړي اشنا
زه خو په زړه کښې یو څو دارے ساتم
(سَیال)

زه او سَیال دَ ژوند دَ دې سپیڅلې او بختورے لارے دوه بناغلی ملګري یو. مونږ دَ یو بل دَ نوم نه دَ هغه وخته خبر وُو دَ کله نه چې مونږ دَ ننګ او پت په دے قافله کښې ورګډ شوې یو. ولے مخ په مخ لیدل مو هغه وخت او شو کله چې بناغلے سَیال دَ خیټې غم دَ مار کلي ته

کندوُ راوارول۔ او محترم ملګري رحمت شاه سایل زه په غوبږ وو هلم چه بناغلے سیال هم اسلام آباد ته راغلے دے۔ د هغه درک یې را اوخود۔ دغه ورځو کښې زه د پښتو ادبي سوسائټۍ، اسلام آباد سکتر وم۔ غالباً نومبر ۱۹۸۹ء کښې د هغه سره زما لیدل کتل په اسلام آباد کښې وُشو۔ سیال سیاسي ادبي هلوځلو زړه ستړے کړے وُو. هغه د هڅه نه لاس په سر شوے وُو۔ ولے ما چرته دومره نازولے پښتون زلمے شاعر ځواني مرګے ته پرېښودو۔ هغه زما جذبې ته لټوڅ دال کېښود او خپل کتاب قلم ته یې کوټې کړے۔ هم د دغې ورځې راسے روستو زمونږ د پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام آباد په ادبي، ثقافتي هلو ځلو کښې یې ځاني، مالي او قلمي زیادونه کړي دي۔ بناغلے سیال نن سبا د ملک د دغې فعال ادبي تنظیم د مجلس عمل فعال غړے دے۔

بېغ د تقوی د خاموشۍ دې اوړي
ځم د مرګوند د بنګړو شور اخلم

د پښتو ادبي سوسائټۍ اسلام آباد په ژوند کښې یو وخت داسې هم راغلے دے۔ ځنې ملګرو غوښتل چې په اسلام آباد کښې یو ثقافتي دستوره وکړي او دا یې هم غوښتل چې یوه جرګه دې جوړه کړے شي، چې هغه د اسلام آباد، پنډۍ په مخوریزو پښتنو وګرځي او د دې دستورې د پاره ترې فنډ راجمع کړي۔ هرڅوکه د سوسائټۍ اکثر ملګري د دې تجویز مرستیال نه وُو ولے د خپلو ملګرو د جذباتو د خیال ساتلو د پاره یې د هغه وخت د چیرمین په مشرکه کښې یو جرګه جوړه کړه ولے دغه جرګه په خپل مقصد کښې بریالے نه شوه۔ او سوسائټۍ دا خبره په ځائے پرېښوه۔ ولے بناغلی سیال دا ناممکنات د ممکن کولو

دَ پاره هیڅې شروع کړے. آخیر په کال ۱۹۹۲ء کښې دَ خپلو څو ملګرو بناغلی نوشیر خان، طاهر خټک، شعیب خان یوسفزئی، طاهر خان، شاذمه حلیم او اقبال حسین افګار په ملګرتیا دَ پښتون کلچرل ایسوسی ایشن په نوم یو ثقافتی تنظیم جوړ کړو. هم دَ دغې تنظیم دَ سورې دَ لانده یې "دَ رنګونو ماښام" په نوم درې کامیاب ادبی ثقافتی دستورے وکړے. په دې دستورو کښې دَ راولپنډی، اسلام آباد نه سربیره دَ ټولے پښتونخوا نه نومیالے ادیبانو، شاعرانو او صحافیانو برخې ورلودلے وه. خصوصاً دَ پښتون کلچرل ایسوسی ایشن هغه دستوره چې په ۲۴، اپریل ۱۹۹۵ء په میریټ هوټل اسلام آباد کښې شوے وه او دَ صوبه پښتونخوا وزیر اعلیٰ آفتاب احمد خان شیرپاؤ پکښې مشر میلمه وو، دَ قدر وړ او ستائیلې جوګه ځکه ده چې په دې دستوره کښې دَ پښتو ادب، ثقافت او صحافت سره تعلق لرونکو شخصیتونو ته دَ هغوی دَ خدماتو په صله کښې ایوارډونه ورکړے وو.

سیال په دومره حادثو کښې نادان

یوه واقعه نیمه هوښیار کړی سړے

په بناغلی سیال کښې عیب دا دے چې دې په هرچا په ښتو سترګو اعتماد کوی. دَ چا بد ورته نه اودریږی. دې عیب هغه ته څو ځله نقصان هم اورسولو. ولے بیا هم دغه غلطی کوی دراصل دَ هغه دَ دې ادبی، ثقافتی جدوجهد په شا څه ذاتی اغراض و مقاصد نیشته. ځکه خو هغه غواړی چې هر څوک دې زه دَ ځان سره بوځم. ولے دا چرته کیږی؟ هغه دَ ملګری وزیر محمد حسرت خبره چې هر څوک په خپل وخت خپل ځان بنائی چې زه په دومره ادبو

کښي يم ؛ دا دَ بے حسه دَ بے سترګو نابينا وطن دے
دا دَ احساس دَ قاتلانو مسيحا وطن دے

ښنا غلے سيال په دوستۍ کښې دومره خوږ لکه خپل ځان . دومره مينه ناک چي سړے په يو نظر کښې په ځان مئين کړي . دومره ايماندار بغير دَ مبالغې چي په دې مادي دور کښې يې څوک تصور نشي کولے . قد ميانه دَ جوشۍ رنګ هغه لکه چي وائي ؛

هلک چي توږ شي لونګين شي ،
جينۍ چي توره شي ښکرې دي خرڅوينه

خوراک ، پوشاک ښه خوښوي . ناسته پاسته دَ ښکلو خلقو سره کوي . خبرے لګي خو په تول پوره کوي . په خوب ډير مئين دے . شاعري يې محبوبه مشغله ده ، ولے په نثر کښې هم دَ خيال نيلي زغلوي . افسانه تکل او رپورتاژ يې وخت په وخت ليکلې دي . پاتے شوه دَ سيال صاحب په شعر تبصره نو هغه به تاسو دَ ملګرې ذاکر سړېزه لوستي وي . زه خو به په مختصره توګه دا اووايم چي ښنا غلے سيال يو ژوند پرست شاعر دے هغه دَ خپل ماحول صحيح ترجمان دے . که چرے دَ سيال شعر دَ دنيا په نورو ژبو کښې ترجمه کړے شي نو بغير دَ ده دَ لوړه به هم دا په جار سرګندوي . چي دا دَ يو پښتون شاعر شعر دے . او چي دَ يو شاعر دَ شعر دَ ترجمې سره دا اندازه څوک لګولے شي نو زما په خيال دغه شعر ښکلي او دغه شاعر ښنا غلے دے . او نور بس

دَ سپرلي دَ ښزسيلئ که چرته راشي نو دَ ارمان بلا ګلونه مې او چينړي وچې څانګې به مې شنې شي دَ ګلونو خوشبوئي به بيا په هر لورې کډېږي خو موده مې اوشوه چي دَ ښه انتظار کړے او په مزه مزه دَ ژوند مزې اندېږي

په درناوي — اقبال حسين افګار

# قطعې
# او
# نظمونه

PUKHTO.NET

# سَنګسار

زما دَ سترګو نم، زما اِطمینان
لکه نسیم سَحر د ګل په بدن
زما پیغام، زما دَ نوي شوندو ګڼ لوے فِکر
چه غزلو ته ئے زړه تخنیدو
چرته ګلئ دَ غضب اُوَرِیده
لکه دَ کانړو دلته هم پریوته

هَغه خُوشبو خُوشبو ګل فامه فِکر
دا سے سَنګسار دا سے تاله ترغه شو
چه ئے پوُتي را ټولولے نه شم
چه پرَهرُونه ئے ګنډَلے نه شم

○○○○

## یو شعر

ستا دَ مینې قد او دَ بازار ګلُونه، ځه مزه
مُونږه خو ګلاب تاله په زړُونو کښے ساتلی دی

PUKHTOONET

# کشش

یو دوکا تور تور بلوری
په مېنځ کښې ئې غمې
یو څو کربنې د بنړو
او چاپېره تر سُرخي

یو څو څاڅکي د شبنم
په غُنچک د انګي
دا غُلئ ده د خُمار
که غوټئ ده د سپرلي!

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

# ژوند

ژوند دَ خیالونو شهزادګئ دهٔ
که یو سکوت حقیقت
ژوند دَ جانان دَ سترګو خوب دے
که شوګیر دَ منزل
ژوند دَ احساس دَ اُور بټهئ دهٔ
که مستی دَ ځوانئ

PUKHTO.NET

زما ملګرو! یه زما خبره منو!
زهٔ خو دَ ژوند په معنیٰ پوهه نهٔ شوم
زهٔ دَ ژوندُون دَ ژړندے پل پیژنم
زهٔ خو، ژبیړګے دَ خپل کوګل پیژنم

○○ ○○

# مذمت

دَ فرات اوبه دَ خپل ځيګر په وينو کښے رنګ بهنګ شوے
دهشت دَ کربلا دے چه بوربنيږي ورته عقل
يو قتل دَ يو نسل وی، يو قتل دَ يو کس
يزيد دَ يو انسان نه دَے، قاتل دے دَ يو نسل

PUKHTO.NET

دَ اباسين په غاړه اوُر اولګيد
په غم لتاړ ځيګر ته نه شم کتے
دَغه دَ دَرد شپه دِ تمامه نه شي
چه ستا دَ مخ سحر ته نه شم کتے

# محنت

ژوندون زما او زه د ژوند معنیٰ یم
خو په معلو باندے وخت نه تیریږی
څوچه منکری د ځان متے نه شی
تش په خبرو تقدیر نه بدلیږی

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

یو شعر

پیغلتوب چپے چپے زلمیتوب غورزنګ غورزنګ
غاړه باسی د یو بل اباسین شومستانه

# زما وطن

دا دَ بے حسه، دَ بے سترګو نابینا وطن دے

دا دَ احساس دَ قاتلانو مسیحا وطن دے

زه پکښے نه لرم دَ یو ګل دَ کرلو زمکه

خو بیا هم وایم چه زما جاګیر زما وطن دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## دوه شعرونه

راشه زاهده لږ دَ مخ نه ګیلو پورته کړه

دَ خدائے تعالیٰ دَ نعمتونو نه پال خوند نه کوې

زړه دَ حسین سره او توره دَ یزید یاره

په محبت کښے دا بے پته مثال خوند نه کوې

# غنی

دَ رونړ صبا دَ ګل سحر دَ مسکیتوب په ارمان

دا سے مے کله کله ځان دَ ځوانئ فکر یوسی

لکه یوه پیغله جینئ دَ بلے پیغلے سره

په سره ډولئ کښے چه دَ خپلے ډولئ فکر یوسی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## یو شعر

دَ پښتونخوا دَ غرځنئ پیغلوته ی یو نظر ته

دا دَ تمام اسلام آباد رنګینئ ځارشه لوګے

# زړه

دَ چا به څه دَ چا به څه دَ چا به څه ارمان وي
خو بَس ناساپه به ئے دے په نیمه لار کښې پریږدي
هَر څه مَنم خو یو دَ زړه خبرے نه مَنمه
دا څه بے پته دے سړے په نیمه لار کښې پرېږدي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

## قطعه

ماچه دَ فکر تار له تَنګ ورکړو
هغې قطار بنګړو له شرنګ ورکړو
رَنګ او نکریزے پلوشے په کړا
جانان دَ ژوند معنے له رنګ ورکړو

# انتظار

دَ سپرلي دَ بنږ سېلۍ که چرته راشي
دَ ارمان بلا ګلونه مے اوچېږي

○

او چې څانګې به مے شنې شي دَ ګلونو
خوشبويۍ به بيا په هر لوري ګډېږي

○

PUKHTO.NET

خو مودے اوشوے چه دَغه انتظار دے
او په مزه مزه دَ ژوند مزې لنډېږي

○○○○○

# دَ غرُونو اولاد

غرُونه نښې دَ عظمت او دَ لوړتیا دي
پښتانه په دَغه دَښتو کښې پیدا دي

○

دا اولاد دَ دغه لوړو لوړو غرُو
دا بچي نه دَ آدم نه دَ حوا دي

○

لکه کاڼي هسې کلک په زړه ټینګ دي
او نبضونه دَ دې دهر دَ بنګلا دي

○ ○ ○ ○ ○

PUKHTO.NET

# سوچ

دَ سپین پوستو دَ ژوندون دُعا په کار ده
چه دَ زړه اَزغې اوباسي په رېبم

○

هائے توبه شه دَ تور پوستو دَ تقویٰ
چه دَ پښې اَزغې اوباسي په لَسم

○

دا ګناه ده که ثواب دے نه پوهیږم
خو په دغه لاره نه ځم په دے ځم

PUKHTOONET
پښتو ډاټ نېټ

○ ○ ○ ○ ○

# زوال نه لري

چه خوږه د محبت شیندلے نه شي
هغه خلق نه ښاغلي دي نه ښُکلي

○

د کروړو ولو انسانانو په تاریخ کښے
یو څو کسه بختور دي ما لیدلي

○

چه تر ننه پورے مړه نه دي ژوندي دي
چه د درد او د احساس په لاره تلي

PUKHTO.NET

○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

# لوګې سپیلنې

د انتظار په معنیٰ نه پوهیږې
خو په دے لار کښې څوک ولاړ لیونے
سم د سحره تر ماښامه پورې
د چا راتلو ته شی لوګې سپیلنې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○ ○ ◯ ○ ○

چه د الفت د ازادۍ په معنیٰ نه پوهیږې
زما د پسے د مجنون نه ګلے ګله کوئ
لا د وحشت د جهنم د اوره نه دي آزاد
په دا سے حال کښې د پښتانه ګلے ګله کوی

# پېغلې سترګې

په چابه ځنګ په چابه ځنګه لګی
زما د زړه په لمه ګړد ګلو

دا د ګلونو ګلدسته دلربا
ورمه ورمه په لړاو بړد ګلو

د تیږو سترګو تنده له بس
د اباسین د غاړې غړد ګلو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○ ○ ◯ ○ ○

## فکری مغالطه

پښتون مینه دی، نفرت دے
پښتون امن دے، فتنه دی
او پښتون بے اتفاقه ؟
دا فکری مغالطه دی

# تنده

دَ اوبو اوبو وطن په هَره کوڅه
زمونږ وچې دي دَ زړه دَ ځيګر څانګې

مونږ په مينځ دَ اباسين کښې تږي ناست يُو
اَو دَ مخ نه مو دَ اُور لمبې داننګي

اَو دَ غوږونو غوږونو وارو شوم خښتن
دَ اختيار نشه کښې مَست بيغمه څانګې

ооооо

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

# جبر

دا ورته ورته ژړا دا شور د څه دے
دا د چا په زړه کښې نښتی د غم لُوکه

○

دا خالی خالی سینے چه درته ښکاری
د غه چا په زړه ورځ کړے ده شُوکه

○

ته چه وائے چه د جبر معنیٰ څه ده
دا تپوس دے د مغرورو سترګو اوکه

○○○○○

لمبه لمبه بارود جانان دے
د محبت په جنګ کښې څه تاوان دے
دا خورو زلفو له څه چا ورکړو
په تیندکونو د زاهد ایمان دے

PUKHTOONET

# بې کرښو دُنیا

دَ زنځیرونو قیدَ غونونو نه آزاده دُنیا
یوه دُنیا داسې پګاره خوشبوداره دُنیا

○

دَ لوږو تندو حسرتونو نه آزاده دُنیا
یوه بې غمه دَ مستۍ ډکه خماره دُنیا

○

دَ نفرتونو دَ وهمونو نه آزاده دُنیا
داسې بې کرښو مې پکار ده بې اختیاره دُنیا

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○ ○ ○ ○ ○

مونږ دَ جانان دَ پاره څومره جاګیرونه پرېښول

دَ ځانه پس دَ ځان دَردُونه حسرتونه پرېښول

کاش دَ مینې قبیله چه پرې راټوله هُم شي

حالاتو ښکلو ته په سر بلها غمونه پرېښول

# دَ بارُودو غېږې



دَ طاقت په نشه مَست دي زورَوَر دي
دَ تلوان خبرې نه مَني او سُود وړي

○

ما په شکو کښې هُم نه پرېږدي شوکيرته
ګل دره دَ فلسطين را نه يهُود وړي

○

PUKHTO.NET

دَ حالاتو او تقدير معنیٰ يَوه ده
چه ګل ګل کوتې په غېږو کښې بارُود وړي

○ ○ ○ ○ ○

## يو شعر

زما خدايه زما يو ارمان پوره کړه
ما دَ خپل زخم په خپله مسيحا کړه

# غواړمه

د شونډو سره د سترګو تور غواړمه
ځان په لمبو کښې سوې سکور غواړمه

زما دې یو زخم هم نه شي پیوند
خپله ځواني داسې لګو اور غواړمه

PUKHTO.NET

دا مې آرزو دا مې ایمان دې فقط
قسم دې یاره که هیڅ نور غواړمه

خو ستا د شونډو سره او تور د سترګو
د هر مئین د زړه په کور غواړمه

○ ○ ◯ ○ ○

# عظیم انسان

چه تعمیر دَ کندے کائنات دے
چه په کانړی ټوند کښے رودِ نیل دے

چه سپرلے دے دَ تودو شګو دَ دشتو
چه ښایست دے ګل دره ده باغیچه ده

چه احساس دے تفکر دے او جمال دے
دا ګوتم دے ارسطو دے که خوشحال دے

دا احساس دغه جمال او دغه فِکر
خو لائق دَ دومرهِ لوئے تشدّد نه دے

چه ئے ته په خلورو اومنډے پناه کړے
دا ستم کړے که دا توقے که خندا کړے

# پلوشے دَ رنړا کالو

پلوشه ئے په زره زره کښے خاندے
دا جهان چه دومره رونړ دومره رنګین دے
ته دَ نور دَ قافلو دَ کاروان میره
په جلوه کښے دِ تاثیر دَ ماه جبین دے
دا تیارے چه مے دَ خوانه ځی په تیخته
ستا دَ مخ په رنړا کالو مے زړه سپین دے

○ ○ ◯ ○ ○

PUKHTO.NET

# دَ احساس په ګناه

لېږے هوښيارے ادا ګانے دِ ساده که اَشنا
په ليونو ګڼي به دِ شمار کړي کم نظرے خلق
دَ چا په خوږو باندے نه خوږيږي نه دړديږي
دَ خټو دَ سړو نه تماشه کوي دَ لرے خلق
سَنګسار وي سَرے دَ مينے دَ احساس په ګناه
دا په ځيګر سنګين دي په زړه کمزرے خلق

# فطرت

تکے تورے ستر کے تکے تورے تیارے زُلفے
سپین دَ سحر مخ او تکے سپینے پلوشے

گوره دا سحر او ماښام څه حسن پټ دے
اَخلی هر صبا بیګا دَ یو بل نه بوسے

مِینه دَ فطرت دَ ادا ګانو ګل دَره دَه
څوک کله تَرلے په زنځیر شی ګلدرے

PUKHTO.NET

○ ○ ○ ○ ○ ○ ○

# محرومي

خدایه دا زما وراته فکرونه

چه لبن یخ شي داسے غوارمه سوړ اوُر

لکه خنک چه دَ لیلیٰ دَ ځیګر تاوُ

دَ مجنون دَ سینے زخم کړی تکور

په دے دومره لوئے جهان دَ رنګ و نوُر کښے

وے نیشته دے زما دَ مینے کور

○ ○ ◯ ○ ○

PUKHTO.NET
پښتو دات نیټ

# کوټه سکے

ږمینه، خلوص او دَ احساس سرمایه
مُونږ سره دا کوټه سِکے ډیرے دی

دَ زړه او ذهن دَ ځیګر دَ خوشبو
دَ شخوند دَ پاره موتیکے ډیرے دی

PUKHTO.NET

لور به دَ خدایه سوال دَ کم څه کوو
داڅه چه دی دَغه مزے ډیرے دی

○ ○ ◯ ○ ○

# دَ جام په کړنګ

څوک شراب خوري ستړګې اوښکې پکښې
خُمار خُمار نشې نشې لاړه ده !
دَ جام رَقيب دَ جام په کړنګ خفه دے
څوکئ څوکئ چړې چړې لاړه ده
څوک ليونے پرِ په توکل تير شو
په وِينو سره دَ ميکدے لاړه ده

PUKHTO.NET

# عمل ردِّ عمل

ته خپلې زلفې په پلو پټې کړه
ځه به مې سترګې په رومال اوترم

ته خپلې سترګې په قابو کښې ساته
ځه به څانګونه د خپل خیال اوترم

ته د نرۍ ټوکې جامې مه کوه
زه به مې ذوق د خپل جمال اوترم

ته چه د دعوت د کتو نه راکوې
زه به مې نندره د وصال اوترم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ته د ښایست پلوشې مه خوره
زه به مې پرق د زړه د لال اوترم

ته یو لحظه د شونډو وسره پابند کړه
زه به مستي د ځوانۍ کال اوترم

ته په پلو کښې مخ را اونغاړه
زه به په سترګو پوره جال اوترم

ته خو دِ خپله پابندي نه منې
زه دِ په جبر خپل اعمال اوترم

ته به د زنې مینځ کښې خال اوترې
زه به د زړه کور کښې سیال اوترم

# افغان جنګ

## د یوې مېرمنې تاثر

چه لیدې اوښنه مه څن... بارودو کې
چه لیده کینمه قلاره شمه سا وا...

چه لیدې مې لرې کړم د پښنونه د بمونو ټوټې
چه لیده د نانا او د نیازګامونه بیا واخلمه

چه لیده ساړه شي د ټینکو او د توپونو کومې
لیده دې اجله مرګه چه پناه واخلمه

چه لیده راغونډه کړم اندامونه د پښتون د وجود
یو څو هډوکي چه د ځلې نه د بلا واخلمه

چه لیده اوږا یم د خپل پلار او نیکه په ځلې
یو څو بوسې چه د خازې نه د بابا واخلمه

نو

دعا کوه چه آسمان شین شي او موسم صفا شي
د مینې ګل به د رنه هله په خندا واخلمه

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

# CONTRIBUTION

زه شاعر يم نه فنکار يم
دا مې کار دا مې پيشه ده
زما زړه زما پتنې دے
خپل قلم زما تيشه ده

شپه او ورځ هوا وړمه
د ارمان کنډے کپړے
خوچه څومره زغل کومه
دومره پاتے شمه لرے

نه لوګے شوم نه لمبه شوم
که مې اور په ځيګر بل کړو
نه مې بل د غمه خلاص کړو
نه مې خپل تقدير بدل کړو

د اولس د قام د سترګو
خلق وائي زه نظر يم
زه د زړه تن او روح يم
د لفظونو کاريګر يم

خو دا هسے يو الزام دے
نه نظر نه کاريګر يم
زما خپلے سترګے نيشته
زه خو خپله بے نظر يم

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دَ شعرونو خوند به څه کړم
چه نَهٔ په روح او زړه یم
په ماڅه ورانه نیمګړے
که زه یم او که زه نهٔ یم

دَ دنیا په ترقۍ کښې مګر
دَ انسان په سوکالۍ کښې
کومه توره ما وَهلې
دَ وَطن په ابادۍ کښې

PUKHTO.NET

مانه ښه هغه مزدور دے
چه دَ خپل همت په زور
چا له جوړه کوټه نرۍ کړې
چا له جوړ دَ مینے کور

مانه ښه هغه دهقان دے
خپله وینه خوله لوے کړې
شاړے دَ شنے کړې سرے سبزے
دَ رنګونو لوتي لوے کړې

مانه ښه هغه لوهار دے
چه دَ سور انګار ښتۍ ته
خپل بَدن پولۍ پولۍ کړې
څه خو ورکړې ابادۍ ته

ما ته بنه هغه چمیار دے
چه زما د جانان پښو له
دوه ښائسته پیزرے کړی جوړے
غم ښادئ له تلو راتلو له

د شاعر نه کولال ښه دے
ژوند په خاورو کښے پیدا کړی
ده نه ښه هم لوتر کانړے دے
د لرګی مخ په خندا کړی

نه شاعر یم نه فنکار یم
خو د ژوند په اوګو بار یم
هیڅ پکار د هیچا نه یم
سراسر د غم روزګار یم

کاش چه زه یو هنرمند وے
او په مینه کښے مے ژوند وے

او زما نه دے جهان ته
د غه لوس لغي انسان ته

بس چه دومره خه فائده وے
پے خپل فن شرمنده نه وے



PUKHTO.NET
پښتو نیټ

# زما کلے

مايو ملګرې ته وئيل ما وے زمونږ ده کلے
دَ سپيلنو وا ورو، شنو اوبو دَ سرو ګلونو کلے

دَ ډنګو ډنګو هسکو غرونو دَ لمن غيږ کښے
خو مره ښائسته دا دَ چينو او دَ سيندونو کلے

PUKHTO.NET

وے ئے سيل ته ښه روغ ئے ليوخونه ئے
دا دَ خانانو نوابانو دَ نيکونو کلے !

ته پکښے نه لرے دَيو ګل دَ کرلو زمکه
څنګه کيدے شي دَغه ستا دَ ارمانونو کلے...!

○ ○ ◯ ○ ○

# د بښایست دُنیا

چه رنګین د محبت مازیګرے وی
د ناصح او رقیب سترګے د ړندے وی

چه په غوږو مے شور نګی د بنګړو
خدایه تل کله د داسے لیونے وی

په نرو، نرمو، نازکو سرکو شونډو
د مئین د زړه وطن سپرلے سپړ وی

چه دا رنګ دغه خمار او خوند ترا وځی
لکه سوی چه بادُو ګل درے وی

دا خوږه خوږه ګناه د ژوند مزه ده
چه دانه وی څه ژوند وخته ے مزوی

دا چه غیږے غیږے زلفے درنه تاؤ کړی
یه کافر زړه بیا د لور کے هم کلے وی

چه د زړه په ګُل د سوړے د بنړو وی
دا تمام جهان د قهروی لمبے وی

چه یوه لحظه مے او نیسی په غیږ کښے
باقی ژوند د وختونو په نیزے وی

چه ګلاب ګلاب مخونه پکښے خاندی
په ماګران دی د منده که د کعبے وی

زما زړه که د پے مخو حرم نه شی
زما سترګے د ساقی د میکدے شی

خُدایه ماله یوه دا سے دُنیا راکړے
دَ سحره ترماښامه چه بوسے وی
چه دَ تر. وسترګو تنده ے شی ما ته
دا ژوندون ے دِ بے شکه څو لحظے وی
دا ګلونه دا رنګونه دَ څو ورځو
بیا به ټول عمر تښځ وی او خازے وی
نه به ته تر سرا او چت کړے نه به زه
دَ ملونو خاورولاندے به موشپے وی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

## لنډ

بنه به داوی چه دا څو ورځے ارمانه
په خندا په مستئ تیر ے کړو جانانه

چه نه ستا په زړه غم پاتے نه زما شی
دا دُنیا یوه دَ لوړ دکه دُنیا شی

دَ سیال دَ ارمانو نو خوا سره شی
دا جهان دَ محبت دَ درد تپه شی

○ ○ ○ ◯ ○ ○ ○

# فنا

دَ هډوکو پنجره ده
دَ پستې غوښې ټکره ده
دَ سرو وینو سَرچینه ده

کله کله داسې اوشي
چه دَ وینو دا چینه
دَ رګونو دا کوړ جال
دَ پستې غوښې ټکره
دَ هډوکو دا پنجره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دومره بنګلې شي حسین شي
چه په یو نظر کتو ئې
زړه ټکور سترګې خوږې شي

دَ وجود هر یو اندام ئې
دَ رنګین سپرلي غنچه شي
کله ګل کله ګلفام شي
کله رِند شي کله جام شي
داسې خوږ داسې خوندناک شي
دومره پوست شي، دومره نرم شي، نازک شي
چه دَ ګل ګلزار پرِ هم کول زیاتې وي

خو ناساپه بې تېوسه يو طوفان د اجل راشي
دا د سرو ګلونه لښتې
دا د حُسن باغيچې
دا مينار د عظمتونو
تسنې وسنې، ريز مريز پُوتي پُوتي کړي
او د زمکې په يوتل کښې
د ملونو خاورو لاندې
د ښکلا معراج بندي کړي
د خوشحال ختک په قول

" هغه مخ چه پر پيرزو نه شوه ګوانکه
هغه مخ اوس په لحد کښې په چينجو خوړې "

چه دا ولې داسې کيږي !
چه ترسو به داسې کيږي !
کاش د دې مرض علاج هم
چه انسان چرته پيدا کړې

○ ○ ○ ◯ ○ ○ ○

# افغانستان

اے دَ پښتون دَ اصل نسل دَ تاریخ وطنه
اے دَ وفا دَ ننګ وپت او دَ عظمت وطنه
ته څه خبرے چه دا ستا دَ بچو
دَ ځیګر ترمے ترمے کړمے وینے
ولے او چا تو ئے کړے دَ څه دَ پاره

ستا دَ لکهونو شهیدانو غوښے
لکه دَ میښو دَ غواګانو په شان
دَ قصابانو په تخت
کباب کباب تیکه تیکه خرڅے شوے

چا دَ تهذیب او دَ بدلون په نامه
ستا دَ بے وسه ماشومانو بچو
دَ خلے نمرئ اخوړه
ځان لهٔ ئے بنګلے جوړے کړے

چا دَ مذهب دَ سرلوړئ په بهانه
دا ستا دَ کونډو پښتنے لوڼے
په ډک بازار کښے سرعام نیلام کړے
ځان لهٔ ئے بینکونه ډک کړل

چا دَ پښتو پښتونولۍ په ترخ کښې
دا ستا دَ پېغلو دَ جبين خالُونه
په پېښور، اسلام آباد کښې خرڅ کړل
ځان له ئې حُجرې جوړې کړې

خوارې زما دَ ننګ وپت او دَ عظمت وَطنه
لَمبه لَمبه زړې زړې وحشت وَطنه
چې دِ زخمونه شي راټول او لږه سا واخلې
زما دَ ډېر ارمان تکميل له به دوام ورکوې
چې دَ تهذيب او دَ مذهب او قوميت دلالان
به نور په خپله سينه نه ځايوې
دَ غه بې رُوح، بې ضميره او بې سترګو بُتان
به په ما نه مَنې لور

ماله به نوې جذبې نوې نسل
چې ننګ وپت او محبت پېژني
ماله به داسې قيادت راکوې
چې دَ راتلونکې پېړۍ نيت پېژني

چې ستا دَ مخ داغونه هم اووينځې
زما دَ زړه زنګونه هم اووينځې

# تلوسې

دَ سحر نه تر ماښامه
دَ اغاز نه تر انجامه
دَ شروع نه تر آخره
چه دَ نمر ځیده راخیژي
زه سحر دَ خوبه وِلیښ شم
دَ ښائیست په لټون ګرځم
تر هغې پورې بیدار یم
چه دَ نمر سترګه پرېوزي
دَ تیارو څادر راخور شي
او زما دَ ذات نه تاؤ شي
زما سترې سترګې
دَ خوبونو په ځانګو کښې
یوجُوته دَ ارام غواړي
خوخوبونه چرته ورک دي
خدائے زده چا دِي تښتولي
خدائے زده کوم ځائے کښې دیره دي
زما خوا له زما خوب هم
ماله نه راځي بو بڼيږي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب

دَ صبا غمے په سر دے
تلو سے مے دَ ځان مل دی
اندیښنو سره په جنګ یم
چه به ځان بانده پوهیږم
بیا سحر دَ کټ نه پاسم
دَ ښائست په لټون ګرځم
ترهغے پورے بیدار یم
چه دَ نمر سترګه شی پټه
دَغه ژوند دَ غمے سترګی
دَ شروع نه تر اخره
له ماښامه تر سحره
له سحره تر ماښامه

PUKHTO.NET

# جدوجهد

زما د ژوند اوفن د مينے جانان
زما د فکر د شعور ګلستان
دے په ګلونو په رنګونو مئين
د بنائيستونو د رڼا ترجمان

نن مے خفه زهير زهير اوليدو
د تصور د نيا کښے پاس ناست وو
خدائے زده د څه شي او د چا په طمع
د خپل احساس دېوه په لاس ناست وو

د هنګامو د شوراو زور نه لرے
په څه د ژوند لاس په سر ناست دے!
ما وے چه ورشه تپوس ترے اوکړم
ولے د خلقو نه بهر ناست دے

ما وے ملګريه په ژوند مئينه
خير خو دے وی دا سے او تر ناست ئے
ما وے دلداره په رسن مئينه
ولے څښے وينے د ځيګر ناست ئے

جواب ئې راکړو او مسکې غونډ شو
"دا د یادونو ادیرې ساتو"
"سپرلې که وي په دې به هم راشي
مونږ ورته داغونه مېرې ساتو"

ما ورې ملګرېه په ژوند مېئنه
سپرلې په خپله د چا کورته نه ځي
په انتظار د سپرلي ناسته اشنا
راځه را پاسه چه سپرلې راولو

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ο ○ ○ ◯ ○ ○ ο

یادګیرنه :- دا نظم د محترم رحمت شاه سائل صیب د کتاب "د بنا ئیستونو د سپرلي بادونه" د مخ کتنې په دستور کښې، کوم چه په ٢٨.٥.٠٦ د مردان په کمونتي سنټر کښې شوې وه، چه مشر مېلمه پکښې په رنګ او کردار بنکلے انسان محترم عبداللطیف آفریدي صیب وو، وا ورولے شو ـ

# حالات

د پسرلي د بارانونو موسم

چې تندرونه پرېوتل به پکښې

هغه کوټې د خټو د کلا سې

چې قدمونه خوځېدل به پکښې

ته به راتلې تا به وفا یا الله

که د جامو به دې اوبه څڅېدې

ته به یوازې وې ډاډه به راتلې

د تندرونو نه به نه یرېدې

زما اوده زړه به دې اویاروو

چې به دې شنو بنګړو له شرنګ ورکړو

او دا ارمان د سپوږمۍ تصویر پاڼې له

تا به د خپلو شونډو رنګ ورکړو

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

هغه په ځير ځير مسلسل کاته دے
لکه بنده ته چه تصويرګوري
ستا به د چا نه سترګے نه شوے زنيګے
چه څوک به مونږ ته هم اخر ګوري
که تا ته ياد وي ما به وے جانانه
چه کلے نه کيږي د خان او غريب
خو تا به يو خبر سپينه اوکړه
چه خامخا کيږي د خان او غريب

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نيټ

## نو

هغه د مينے او خاوص ورځے د ے
په زړه مے ليک دي ما ته بنه ياد يږي
خو دا حالات څه بے پښتو غونددي
ستا به ياديږي يا به نه ياديږي

# انکار

پهٔ دے شګمن په دے وهمی وطن کښې
دَ مینې ډیرخه ناسازګار ماحول دے

دلته په مینه او مینې پابندي
دلته دَ جبراو سنګسار ماحول دے

په هر طرف دَ نفرت لړے خورے
بنائیست قیدی دے دَ کوډونو دَ جیل

دَ پیغلتوب او زلمیتوب تقاضے
لوګے لوګے شوے دَ رسمونو دَ جیل

دلته تحفه دلته انعام دا دے
په هر قدم په هر نظر خوګئ ده

زړونه دِ اوچوی خو یوځائے دِ نه شی
دَ ملا راج دے دَ دیدن ژبګئ ده

PUKHTO.NET

دَ غه حالات دى فيصلے دَ غـه دى
هَسے نه مونږ چاته په ګوته نه شو

صَبا به دواړه مَخ لوړن ولاړ يـُو
ملک دَ پښتو دے سترګے بنکته نهٔ شُو

لو بنه به داوى چه ترعُمره عُمره
دَ زړه په کورکښے خپل ارمان اوتړو

چه دَ دُنيا خلق تر نه شى خبر
دا په سينو کښے کړ طوفان اوتړو

تا هيرووم تا هيروله نه شم
پياله دَ زهرو ده خو تيره مے کړه

سيال دا مے مجبورى اوګـڼـړه
که هيرولے مے شے هيره مے کړه

○ ○ ◯ ○ ○

# سندرې

PUKHTO.NET

ځم چه تاله غیرې دَ سپرلي دَ ګلو راوړمه
دا دې کړه نغاړمه
ستا دَ زړه ارمان ستا په ځوانۍ رِژول غواړمه
دا دې کړه نغاړمه

ځم چه دَ خپل ژوند په تیندکو نو کښې تینګ شمه
ورک شمه که سپک شمه
ځم چه دَ حالاتو په سنګین وجود کښې کلک شمه
خیر که کانړې ټک شمه
ستا دَ ژوند دَ پاره دِ په لویه ګناه واوړمه
دا دې کړه نغاړمه

ځم چه خپله وینه خپلې مینې ته لوګې کړمه
هر رقیب لمبې کړمه
ځم چه خپل ډیوې دیوې فکرونه غرغنګې کړمه
ځان به را ژوندې کړمه
ستا تکور تکور شونډې دَ زړه پرهر له غواړمه
دا دې کړه نغاړمه

ځم چه دَ حسرت دَ ګلستان کلۍ اوبه کړمه
جوړه تر غنچه کړمه
ژوند به دَ رله خور دَ پسرلو به ګل دوه کړمه
آلا به دِ نغمه کړمه
ستا لوه خندا دَ زړه دَ ځریکې په تار ژاړمه
دا دے کړه نغارمه

دا توتے توتے زړه به کچکول کړمه پا ګل به شم
ستا دَ مینے پَل به شم
ورک چه دَ دے تورو تورو غرو نه شم منزل به شم
یو دَ درد غزل به شم
غیرَه رانه واخله دَ سیال جانانه لاړمه
دا دے کړه نغارمه

○○○

دَ ارمان دَ باد چپے
ځي راځي نمونځ پہ لاس
دَ زخمونو غوټۍ کښلُ
دَ دردُونو نوَبهار

دَ حسرت دَ کلي ژوند
دَ جانان دَ شونډو پار
دَ احساس دَ بام پہ سَر
ډَکوي ريحان لتار

نہ سپرلے دلتہ راځي
نہ ئے باد کوي رَفتار

يو دوه تور تور بلوري
او پہ مينځ کښے ئے غمي
يو خو کرښے دَ بڼرو
او چاپيره ترسُرخي

دا غوټۍ دہ دَ سپرلي
کہ غولئي دہ دَ خمار

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

هَغه سُوری دَ اور گل
هَغه سترګے غړځنې
دَ ارمان په ترګمو
پلوشے دی دَ سپوږمۍ

زما زړه ئے هوا ګیر
زما ژوندے کړو په دار

دَ جنت دَ حورو سیل
دَ جانان دَ زلفو بنګړ
هَلته لویه خاموشي
دلته شور دَ بنګړو شنګ

دَ سیال دَ سینے بنار
شنګا او شور غواړی نالار

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○ ○ ○

ګرانه دَ ژوندون رنګونه ټول دَ رڼه لوګے شه
او خانده سپرلے شه
غُنچے غُنچے شه

ګرانه لږ او خانده دَ شګوفو په سر
سپرلی لمبه لمبه کړه
ژوند له رڼا ورکړه دَ مخ دَ سحر
سپرلی لمبه لمبه کړه
دَ نمر جبین دَ ستورو خال شه پلوشے شه
او خانده سپرلے شه
غُنچے غُنچے شه

دَ تنهائی په بیابان کښې اشنا
دَ ژوند سفر نه کیږی
قیدی دَ خپل زړه په زندان کښې اشنا
دَ ژوند سفر نه کیږی
دَ چا دَ زړه دَ بڼ طوطی شه ګلالے شه
او خانده سپرلے شه
غُنچے غُنچے شه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دَ چا دَ خوبُو زړونو خوبُ زخمونه
غواړی دَ شونډو ټکو
دَ محبت په اور ستی فکرونه
غواړی دَ شونډو ټکور
دَ درد په خړپړیکو کښې ستړ کښې نغمې شه
او خاندہ سپرلے شه
غنچې غنچې شه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چه دَ بېلتون شوګیرے ډیرے ورے شینه
راشه لږ په سترګو کښې مے خوب شه

راشه په سترګو کښې مے خوب شه
مسته جوته دَ پېغلتوب شه
رنګ او رڼا دَ زلمیتوب شه
زما تکمیل دَ لیونتوب شه
ژوند مینه مینه غېږه غېږه خوند کوینه
راشه لږ په سترګو کښې مے خوب شه

دا شوګیرو زپلے سترګے
دَ شونډو ترم ټکور غواړی
دَ انتظار کوڅو کښې مے زړه
زما نه ژوند غواړی شور غواړی
ستا دَ وصال زیرے په کال کښې نه راځینه
راشه لږ په سترګو کښې مے خوب شه

بیا مې په زخم شوونکي کیږده
د درد په خوږمیکو کښې خوند پریږده
ترخې ترخې لمحې خوږې کړه
څڅېدا څڅېدا زړونه یو ځلې کړه
چې رقیبان راته راګوري زړه ئې چوینه
راشه لږ په سترګو کښې مې خوب شه

زړه مې په هیڅ نه خوږیږي
د اور رنځوو په اور رغیږي
سیال ژوند شو ګیر شو ګیر شو
د سترګو ګاټي مې خوږیږي
ستا د راتلو لار ته مې ډیر کتلي دینه
راشه لږ په سترګو کښې مې خوب شه

چه دَ جانان څنډو له یوسم غنچکونه
خدایه دَ سپرلی ګلونه ګل کړے

سپرے چه ټول جهان سمسو کړی
رنګ چه دَ ژوند په دَشتو خور کړی
غنچک غنچک چه هر او ربل کړی
ځذبے چه ځوانے پل په پل کړی
چه غریو نیولی پښے هم اوکړی قصُونه
خدایه دَ سپرلی ګلونه ګل کړے

خدایه دا ګل وطن جانان کړے
مائے دَ سترګو نه قربان کړے
خدایه دا ټول جهان رنګین کړے
ملئے دَ غاړے لونګین کړے
چه دَ نغمو ژبے را اوسپړی رنګونه
خدایه دَ سپرلی ګلونه ګل کړے

دَ ننګ اوښه سترګو له ورکړه
دَ کینې زنګ دَ زړه نه لرې کړه
په ژوند کښې لوے ژوند پیدا کړه
دَ پلوشو جوړه دُنیا کړه
دَ محبت په شوګیرو ښکل که اسمانونه
خدایه دَ سپرلي ګلونه ګل کړې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○ ○ ○

دَ پلوشو نه درله اخلمه رنګونه ــــ جانانه
تا سنګهارَ وومه ــــ جانانه
دَ ګل په پانړو کښې دِ نغارمه خالونه ــــ جانانه
تا سنګهارَ وومه ــــ جانانه

یو به دَ سرو ګلو دَ بڼو ګلونه
ستا په کمَسو کښې ږدمه
بل به دَ نمر دَ پلوشو رنګونه
ستا په جبین ښیندمه
دَ زړه په وینو به دِ سره کړمه لاسونه ــــ جانانه
تا سنګهارَ وومه ــــ جانانه

دَ رنګ او نور دَ کهکشان کلی ته
به ستا ډولئ راوړمه
دَ خپل محروم زړه دَ ارمان کلی ته
به ستا ډولئ راوړمه
په درد به اوګنډم دَ خپل فکر زخمونه ــــ جانانه
تا سنګهارَ وومه ــــ جانانه

زما تسکین زما د زړه سندرې
دې د اُلفت خبرې
زما د فکر د الوت وزرې
دې د اُلفت خبرې
تپه تپه دِ وی د ژوند واړه سازونه —— جانانه
تا سنګهار وومه —— جانانه

○ ○ ◯ ○ ○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زما د زړه د بڼ بلبله
اې د مېنې گله ـــــ گل فامه
غېږه د وصال شه جانانه

گلاب گلاب غنچې غنچې شه
رنگونه او سپړه مسکې شه
د زړه په دښت کښې سپرلی شه
د سترگو جنگ کړه گله گله
اې د مېنې گله ـــــ گل فامه
غېږه د وصال شه جانانه

د چا نه څه په کتو یوسې
زما نه زړه په کتو یوسې
هر څه خو ته په کتو یوسې
په غلچکو سترگو سنگدله
اې د مېنې گله ـــــ گل فامه
غېږه د وصال شه جانانه

چه اداګانې په ګاونډ شي
دَ چا په شونډو سپرلے پېنډ شي
دَ زړه زخمونه مې برېنډ شي
لمبې مې تاؤ شي دَ ګوګله

اے دَ مينې ګُله ـــــــ ګل فامه
غېږه دَ وصال شه جانانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○ ○ ○

"وا ړوه په سترګو کښې دا ټوله دنیا وا ړوه"
پرېږده چې د زړونو جهان رنګ شي

بارونه د پرانه دي په هر لوري
د سرو بڼو باران اوري
زړه مې بوږنيږي وار خطا دې
سترګې دې داسې په کوابن کوري
هسې نه خدايه چېرته جنګ شي
پرېږده چې د زړونو جهان تنګ شي

زمونږ په ګلي اوږ وريږي
د محبت کندې بارېږي
فضا لوګې لمبه لمبه ده
د ارمان ګل په کښې وريږي
ژوند جهنم شي روح مې تنګ شي
پرېږده چې د زړونو جهان رنګ شي

راشه دَ زړه باغ ے دَرواخله
دَ ګلو پیټے په سَر واخله
دَ لوی ژوند نوے ورمه شه
دَ دَرد خوابږه په ځيګر واخله
زړه به دے ځوان خال به دِ رنګ شی
پرَیږده چه دَ زړونو جهان رنګ شی

○ ○ ○ ○ ○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ګل ګل ښلکي سره سره لاسونه
زمونږ د کلي سپرلي ډیر کوي خوندونه

زمونږ د کلي سپرلي خوند کړي
جدا جدا زړونه پیوند کړي
چه غیږې غیږې زلفې وړي راوړي بادونه

ګلونه ځل زده کوي خاندي
یو بل له ځلې ورکوي خاندي
دا د ځوانۍ په بنږ راغلي دي وختونه

مینه شیرین مینه فرهاد کړي
مینه برباد زړونه اباد کړي
په کانړي کانړي زړه کښې اوباسي سیندونه

د چا په چا سترګې خوږې شي
زمونږ په تا سترګې خوږې شي
کله نا کله په مونږ هم کوه خیالونه

وفا چه غواړي لیونے دے
سیالے زړه څه غوښنے دے
دا ښکلې کله ورکوي چا له لاسونه

PUKHTOONET
پښتو ډاټ نیټ

○○○

زما دَ زړه دَ بڼ بلبله نغمه کړه یاره
دَ ستړګو توره دَ زړه سره یاره
په خندا اوسې
په خندا اوسې

زما دَ زړه دَ ګل بدن ګلابه
دَ ستړګو توره دَ وطن ګلابه
دَ اوربلونو دَ ګلشن ګلابه
دَ جهان ښکلي دِ لوګي شه دَ نظر یاره
دَ ستړګو توره دَ زړه سره یاره

دَ رنګ او نور دَ بڼ طوطي جانانه
دَ صحرا رنګه دَ سپرلي جانانه
په ژوند مئینه لیونی جانانه
دَ خیال دَ ښتونه مې ګل ګل که ستمګره یاره
دَ ستړګو توره دَ زړه سره یاره

دَ ژوند په مَخ دَ بهارونو چپې
دَ غرونو غاړې دَ سیندونو چپې
دَ دوُو مئینو ارمانونو چپې
تکمیل به غواړي دَ ارمان دغه سندره یاره
دَ سترګو توره دَ زړه سړې یاره

په ریګزارونو کښې پښې ابله ژوان
شوګیر شوګیرا او وینې وینې ارمان
مَزل مَزل وے منزل نه شو جانان
سیال تَرس لره په ځان اوکړه کافره یاره
دَ سترګو توره دَ زړه سړې یاره
په خندا اوسه
په خندا اوسه

○ ○ ◯ ○ ○

○○○

دَ لیونی جانان دَ غاړے
تار تار کړیوانه ــــ څار څار کړیوانه
ستا دَ رِینبو نه به پلوځان له کړمه

کریوان به شِیرے ترلمن کړم
ځان به رُسوا په تول وَطن کړم
جانانه تا به ګل بدن کړم
ځان مے بایلمه خو دَ مِینے ننګ کړمه
ستا دَ رِینبو نه به پلوځان له کړمه

هَرڅه چه کیږی خو به کیږی
دُنیا ورانیږی که جوړیږی
خلق که خاندی خفه کیږی
دَ مِینے تور به دِ په سترګو کینبے سَاتمه
ستا دَ رِینبو نه به پلوځان له کړمه

زما پاګل ملنګه یاره
زما د غیږ د تخت واکداره
زما د زړه د باغ مالیاره
لکه د سوری به دِ خواته ځمه
ستا د رِیبنو نه به پلوشان له ګنړمه

زما جانان زما ښلغلے
ماته د هر ښکلی نه ښکلے
د انتظار لمبو سیزلے
زه به سیال له داوربل ګنتونه وړمه
ستا د رِیبنو نه به پلوشان له ګنړمه

○○○○○

ما خو ټول عمر د ړندو لو سره ژوند کړې
زه به د زړه د درده ولې مرمه
په هر قدم مې د زخمو لو سره ژوند کړې
زه به د زړه د درده ولې مرمه

زه د تقدیر د تندرو لو آسمان
کله وژلې نه یم
زه د حالاتو عزرائیل او ځانان
کله وژلې نه یم
خو ما د ژوند د شکستو لو سره ژوند کړې
زه به د زړه د درده ولې مرمه

ما د لمبه لمبه وختو لو لمبې
لمبې کنزلې نه دي
ما د دوزخ اورو لو لمبې
لمبې کنزلې نه دي
ما خو مدام د انکارو لو سره ژوند کړې
زه به د زړه د درده ولې مرمه

PUKHTO.NET
پښتو کتابتون

ځه خو د ځړيکو د دردونو سره
څه نابلده نه يم
د حسرتونو ارمانونو سره
څه نابلده نه يم
ما د غربت د ګناهونو سره ژوند کړے
زه به د زړه د درده ولے مړمه

ما خو مدام د عذابونو سره
لوے بے اشنا کړے دی
د لوږو تندو د رنځونو سره
لوے بے اشنا کړے دی
ما خو هر وخت د تندرونو سره ژوند کړے
زه به د زړه د درده ولے مړمه

زه به د زړه د درده ولے مړمه
زه څه نيازبين خونه يم
زه لکه غر هسے سينه لرمه
زه څه نيازبين خونه يم
ما د لمبه لمبه وختونو سره ژوند کړے
زه به د زړه د درده ولے مړمه

PUKHTO.NET
پښتو پانړه

زه خوشحاله یم سیالي به کووم
د چا نه سوال نه کووم
ژوند به په خوښه د ژوندون به کووم
د چا نه سوال نه کووم

ما د پښتون مزاج رنګونو سره ژوند کړیدے
زه به د زړه د درده ولے مرمه

ooOoo

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

زما په ژوند دِ پورې کړي دي اوروُنه
ګرانه مړ مے نه کړے — جانانه مړ مے نه کړے
دَ ستړګو توره
لوګے مے نه کړے دَ ارمان ماځيګروُنه
ګرانه مړ مے نه کړے — جانانه مړ مے نه کړے
دَ سترګو توره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

ما لا دَ ژوند خوارہ ليدلي نه دي
ته مے ځانګونه تړے
لا مے فکرونه زلمي شوي نه دي
ته مے ځانګونه تړے
دا دَ ارمان طوطي مے غواړي پروازونه
ګرانه مړ مے نه کړے — جانانه مړ مے نه کړے

دا سے غضب کتل مه کوه
په ژوند به اوُر اولګي
دَ رقيب خيلو په شان چل مه کوه
په ژوند به اوُر اولګي
سترګے دِ پوهه که چه نه کوي جنګونه
ګرانه مړ مے نه کړے — جانانه مړ مے نه کړے

زه خوسپړلے یمه ګلونه شینډم
زه څه ازغے خونه یم
زه خو دَ زړونو پرهرونه ګنډم
زه څه ازغے خونه یم
زما په مینه باندے مه کوه شکونه
ګرانه مړے نه کے ــــ جانانه مړے نه کے

دَ زړه دَ درد په خوبو څه پوهیږی
دَ غمه بے درده خلق
دَ انتظار دَ زورَه څه خبریږی
دَ غمه بے درده خلق
خدایه په لار کړے دَ بے مخو قدمونه
ګرانه مړے نه کے ــــ جانانه مړے نه کے

نشے نشے مے کونے ستړکے دَ یار
په زړه کښے لاړے کوی
اوبږده باتړه دَ سنګینو قطار
په زړه کښے لاړے کوی
په میخانه کے اودرولی دی قفو حبونه
ګرانه مړے نه کے ــــ جانانه مړے نه کے

PUKHTO.NET

زه خو د مینې ثنا خوان سیال یم
که څوک مې هڅه کړي
د درد د څړیکو ترجمان سیال یم
که څوک مې هڅه کړي

د زړه په وینو څندوم د ژوند غمونه
کرانه مړ مې نه کړې ـــــ جانانه مړ مې نه کې
د سترګو تور ه

○○◯○○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○○○

ای د وطن خاورې زما مورې لېونۍ يمه
زه هم ستا بچې يمه
ځان ته مې نزدې که چې د ځانه هم پردې يمه
زه هم ستا بچې يمه

ستا سينه که چوکه ده د پيو خوږه ترږې يم
شونډې مې چاودلې دي
ستا په لاس کښې تال که د ميوو د خوږه وږې يم
شونډې مې چاودلې دي
دې د محرومو غلو سکوندلې په ليچې يمه
زه هم ستا بچې يمه

PUKHTO.NET

اورمه چه ستا د پښو د لاندې جنتونه دي
زه لوږې په دوزخ کښې شوم
مينه ده، شفقت دې، بهارونه دي، باغونه دي
زه لوږې په دوزخ کښې شوم
زه د کوم عذاب په اور کښې سوزمه لمبې يمه
زه هم ستا بچې يمه

ستا دا غیرت د امن او قرار ځانګو ګنړلے شي
زه ولے په ویریږمه
ستا غیرت د خوب او د تسکین غیرت منلے شي
زه ولے په ویریږمه
هلته کښې بګرم دلته کښې بګرم والوتم بچ کیږمه
زه هم ستا نیچے یمه

ستا په کور کښې ستنے او تارونه او تانونه دي
زه لفرسوغر یمه
ستا په وس کښې ډیرے کارخانې دي او ملونه دي
زه لفرسوغر یمه
پته مے که، بربنډ یمه، شوشنیرمه، زلمے یمه
زه هم ستا نیچے یمه

دا نه شي کیدے چه زه دے خوار یم دړپه دریمه
نور دے عیاشي کوي
دا نه شي کیدے چه زه دے تږے او نهر یمه
نور دے عیاشي کوي
ستا د بے رخئ لمبو لوخړه کړم لوګے یمه
زه هم ستا نیچے یمه

ستا نه بغاوت اوکړم که تاله مینه درکړمه
څنګه اخر څه اوکړم
ته په وینه راکړې اوکه تاله وینه درکړمه
څنګه اخر څه اوکړم
تا ته سا نیولې منتظر د فیصلې یمه
زهٔ هم ستا نجې یمه

○ ○ ◯ ○ ○

یادګیرنه : دا نظم پاکستان نیشنل سنټر اسلام آباد کښې، د پښتو ادبي سوسائټۍ زیر اهتمام په ۲۲ مارچ ۱۹۹۰ء د ۲۳ مارچ د ګولډن جوبلي تقریباتو په لړ کښې، په یوه دستوره کښې واورولې شو ـ

PUKHTO.NET

---

سپرلی شیندلی دی رنګونه
راځه چه ځو جانانه
دَ غره لمن کښې غوټۍ ګل شوې

رنګونه سمه شاړه اخلی
سپرلی مستۍ کړې دی
ګل چه دَ ګل نه غاړه اخلی
سپرلی مستۍ کړې دی
په ژوند وریږی خُمارونه
راځه چه ځو جانانه

دَ غره لمن کښې غوټۍ ګل شوې
ځه چه سپرلے اووینو
سندرے پورته دَ بلبل شوې
ځه چه سپرلے اووینو
راځه رواچوو لاسونه
راځه چه ځو جانانه

راځه چه ښنک په ښنک جوړ شو
دَ رقیب زړه چه اوچوی
چه په دَیدن باندے ماړه شو
دَ رقیب زړه چه اوچوی
په بیلتون پورے شه اوږونه
راځه چه ځو جانانه

لږ ستړی زړونه به دمه کړو
ګے به سترګے خوږے
سکږلے به ځان ته تماشه کړو
ګے به سترګے خوږے
لږ به مو شاته شی غمونه
راځه چه ځو جانانه
دَ غره لمن کښے غوټئ ګل شوے

○ ○ ◯ ○ ○

○○○

زما دَ مینې دَ ښائست دَ چمن ګله
زما کوره کابله
اباد شې ــ اباد

ډیرې مودې اوشوې چه ستا په خونه
الغاو تلغلو لوټ او تالان جوړ دے
په ولو غلو غرلو دَ شتو کښې دے
هر ځائے دَ سرو وینو باران جوړ دے

دَ ټوټې ټوټې ټکړې ټکړې نه دے
د بَم پټرې دَ اور بخرې دانګې
ستا دَ کوچۍ معصومې پیغلې په مَخ
خفه خفه کمسۍ درګمې ځانګې

ستا دَ بچو قاتل اخته شوے په ځان خپله
زما کوره کابله ــ اباد شې ــ اباد

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زمَا دَ پلکے مینے خوږ وَطنه
دَ چا دَ شنو سترګو ښامار اوخوړے
دَ جنګ ګټهٔ لمَبه لمَبه وَطنه
دَ چا دَ سرو شونډو ناتار اوخوړے

یو خوا ستهٔنګر او بل خوا سکڼ ورېږی
پښتون اوسېږی دَ بارودو په ډېر
لاړے لو لورشوے په لکونو ځوانیٔ
انسان توکېږی دَ بارودو په ډېر

خېږی دَ درد خړیکے دَ هرے سوی کوګله
زمَا کوره کابله ـــ اباد شے ـــ اباد

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

پښتون دَ خپل ضندي فطرت په سَبب
دَ خپل وَجود نه انتقام اخلی
دَ ناپوهئ او جَهالت په سَبَب
دَ روژ په لاش پښنې ږدي او کام اخلی

یړپښتنو په ځان اخته پښتنو
لږ مو سَبق دَ خپل تاریخ نه واخلئ
دَ بل به لمسه په جهګړه پښتنو
لږ مو سَبق دَ خپل تاریخ نه واخلئ

سیال کله به په خله شی دَ یو بله
زما کوره کابله ــــ اباد شې ــــ اباد

○ ○ ◯ ○ ○

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نټ

چه مې جانان راته مسکې شي لبې د شونډو په سر
خمار خمار شي فضا — سپرلې سپرلې شي کودر

خمار خمار سپرلي جانانه
زما د زړه د باغ طوطي جانانه
ځواني د سرو ګلو غنچه ده
دا د څو ورځو میلمنه ده
ښه به وي داچه مینه مینه شو ځیګر په ځیګر
خمار خمار شي فضا — سپرلې سپرلې شي کودر

راځه راځه جانانه مه شرمیږه
د جنګ پرستو د جنګ مه ویریږه
مینه ایمان دے عبادت هم دے
مینه پښتو ده ننګ وپت هم دے
د ننګ په کار کښې میړنان ولاړ وي کلک لکه غر
خمار خمار شي فضا — سپرلې سپرلې شي کودر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

زمونږ سینې دَ زنګ نه پاکې سینې
زمونږ زړګي دَ غرورونو پاکې چینې
مونږ په حسد نه په غرور مېن یو
مونږ دَ خلوص په تش شور مېن یو
زمونږه ټول عُمر په ځان هُم په جهان وی نظر
خمار شی فضا ــ سپرلے شی ګودر

○○◯○○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○○○

سره دِ مړوندونه کړل ــــ زلفې دِ تالونه کړل
یه جانانه دا څه کړے ــــ مه جانانه دا څه کړے

تیغ اوږده اوږده بانړه
سم دَ جنګ سواره بانړه
مَا پړے قتلوے که څه
تیغ دِ سنګینونه کړل
یه جانانه دا څه کړے ــــ مه جانانه دا څه کړے

سترګے دِ ویشتل کوی
زلفې دِ تړل کوی
مونږه غریبانو له
جور دِ عذابونه کړل
یه جانانه دا څه کړے ــــ مه جانانه دا څه کړے

یو دِ دَ ښکړو ښنزار
بل دِ کمسو ښهار
دِ دَ اداګانو شور
وروک زمونږ خوبونه کړل
یه جانانه دا څه کړے ــــ مه جانانه دا څه کړے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

تا وې چه زه رابه شم
ستا سره په خله به شم
ځې دَ ژوند غزمه په شا
بیا دِ ماښاموونه کړل
یه جانانه داخه کې ــــ مه جانانه داخه کې

ستړکې دَ سیال خوبړے
نه شوے په وصال خوبړے
دے دَ حسن توتو ژوند
تا و رانه اوروونه کړل
یه جانانه داخه کې ــــ مه جانانه داخه کې

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

○ ○ ◯ ○ ○

# غزلې

PUKHTO.NET

درد له مې تکور زخم له مې ستنې را
لږ د شونډو اور د بنړو غشي را

ستا نه پرته ځی ستا په کښې څه تاوان
ځله خو دې يو ځلې ګل بدنې را

غيرت به درنه واخلمه په سترګو کښې
بنه به وي په خپله ئې ميرمنې را

وريت شومه ګرمي ده ستړے هم يمه
سوړے مې لمبه وجود له وږمې را

خوند مې د بوسې د ځلې نه نه اوځي
يو ځلې هم هغه شان، مننې را

تا چه پرې ستيال ليونی کړے وو
هغه رنګ خوږه راله د خنې را

PUKHTOONET
پښتو ډاټ نيټ

زه دَ ځانه ناخبره دَ جانانه ناخبره
دَ ارمان په کور کښې اوسم دَ ارمانه ناخبره

زړونه تنګ دي په سینو کښې نظر سوی په لیمو
په هر خوا دي قیامتونه ته اسمانه ناخبره

زه دَ زړه په سترګو وینم دَ ارمان دَ مخ تنزا کے
که هر څو سم بے نظره، دَ جهانه ناخبره

دَ تنکی بوټی کلی ده ډیر پاڼے ترې چاپیر کړی
دا دَ ناز دَ موسم پېغله دَ ګریوانه ناخبره

زه به خپل تهذیب پرې نه ږدم ته کښېنے سترګے پوټے که
چه بوسه په بڼو نه ږدې دَ حیا نه ناخبره

دَ ګلونو تخم کری دَ ارمان دَ دشت په سینه
دا دهقان زړګے مے دَ خزانه ناخبره

دے ارمان خو مونږ له زړونه دا سے او چو سیال
هر تکل مو حادثه شی ناګهانه ناخبره

○ ○ ○ ○ ○

○

کړې خوارۀ خوارۀ سترګو نه چا په سترګو کښې دي
بیا تخیلي مې خوبو نه چا په سترګو کښې دي

چه د خپل زړۀ د درد د سوې په علاج نه پوهېږم
دلسې بل کړې انګارو نه چا په سترګو کښې دي

د ژوند د درد کوڅه کښې ستړې په یقین ولاړیم
ما سره کړې څه لوظو نه چا په سترګو کښې دي

د محبت د بنارګې موسم به خنک بیکه شي
دلته راوړې بهارو نه چا په سترګو کښې دي

دا د ارمان د بنګلا ګانو په بنار اور اولګید
که نه بل کړې چراغو نه چا په سترګو کښې دي

او د توبې په ثواب پورې شه سیال اشنا
راته سنت کړې ن جامو نه چا په سترګو کښې دي

○○○○○

PUKHTO.NET

په مزه مزه د ژوند مزې لنډيږي
څه اوده اوده د ژوند مزې لنډيږي

انتظار خو مې خله ډکه کړه په خاورو
ته راځې که نه د ژوند مزې لنډيږي

په يو خوږ نظر مې مړ که چه ژوندے شم
په غضب کاته د ژوند مزې لنډيږي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

دا د مينې وارِدات د زړولو ژوند دے
په خوږه خوږه د ژوند مزې لنډيږي

زندګي خو د مستئ او جنون نوم دے
په نشه نشه د ژوند مزې لنډيږي

د چا، چاغمونه او ژاړو سيالَ
څه د مينې څه د ژوند مزې لنډيږي

تاله دَ خال دَ ایښود وچلونه هُم درځي
دَ چا په زړه که نکوے داغونه هُم درځي

سپرلیه ستا دَ بڼ ښایست نغمه نغمه بلبلان
که په سینه کښې ورله برې خارونه هُم درځي

دا دَ الفت دَ دښت سفر خو شو کیږي غواړي اشنا
جانان هم غواړي او په لار خولونه هُم درځي

زما دَ نوم دَ لوره ځې دَ پیغلتوب دَ یرې
تاله په خوب کښې به دَ چا خیالونه هم درځي

تاسو په لیمو وینې څښلې بوږونه هم نه خیږي
تاسو له دَغه هُم او داچلونه هُم درځي

موږ له ستیال خوشحالات بادي خاورے په سر
تاله دَ سترګو په بڼو وختونه هُم درځي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

زړه په لپو لپو خښم داځه دستور خونه دے
ژوند لکه بار په اوګو وړم داځه دستور خونه دے

نه د ژوندون په خوږو مورېږم نه د جانان په مينه
د سيند له مينځه تږے ځم داځه دستور خونه دے

زړه د احساس د رنګ نازکه پانړه پانړه غوټے
زه چه په ګل داغونه ږدم داځه دستور خونه دے

ته پرېمدام کړېږه راکاږے د بڼرو د حپرو
دا زما زړه دے غنچه فم داځه دستور خونه دے

زه جانان منم، جهان منم رقيب هم منمه
خو ماته نه ګورې څوک سم داځه دستور خونه دے

خلق دے نه کوت کوی هسے خپل تندى سيالے
زه به د درد رشتے پالم داځه دستور خونه دے

○ ○ ○ ○ ○

سترګې دِ نور دَ چا نه څه اوباسي
دَ چا نه سا دَ چا نه زړه اوباسي

دا ځینې ځینې بَلا سترګې لتوبه
په یو نظر دَ سړي زړه اوباسي

دا دَ خلوت او نصیحت زغُوران
دَ شیخ شراب سَحر توبه اوباسي

PUKHTO.NET

هغه چه غم راوړي وُبا خوروي
هغه دَ ګلي نه څوک نه اوباسي

زما خوبونو له تصویر جوړوي
جانان مې کرښه په چڼه اوباسي

څوک چه واګمن شي دَ چمن دَ ګلو
هغه دَ سرو شونډو نه سره اوباسي

سیال دَ وینو په آبشار کښې ولاس
دَ زندګۍ دَ مخ نقشه اوباسي

○ ○ ○ ○ ○

○

دَ مخ دَ اور نه دے لب او را اخلمه
دَ مینے تاؤ دَ زړهٔ په کور اخلمه

بیخ دَ تقوىٰ دَ خاموشئ دِ اوحئ
ځم دَ مرونډ دَ بنګړو شور اخلمه

دَ زړهٔ سنګرے خالی پلے نهٔ شی
ګرانه پوخو غشی به لنور اخلمه

که دَ خالونو په رنګونو جنګ شو
زهٔ به دَ خپلو غرونو توراخلمه

دَ انتظار دَ درد خوند اخلمه
سیال دا شغل به پور اخلمه

○○◯○○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

دَ حالاتو بلا ګانے به پوهیږی
چه احساس دَ ژوندګئ ولے بوږنیږی

خدائے زده ته مے ولے نه اوځے دَ زړه نه
په دے بنار کښے خو نور هم ښکلی اوسیږی

دَ جانان شونډے که پانړے دَ ګل نه دی
زما زړه ولے نرے نرے رپیږی

PUKHTOONET
پښتو جاب نیټ

زما سترګے خو په تا باندے خوږ شی
خو ځه ستا سترګے په ما باندے خوږیږی

دَ رښتینے رښتینے ګریوان ملنګه یاره
دَ بنار مینے خو په دے باندے شرمیږی

دَ خندا معنیٰ ئے څه اوکړم سیال
ما ته خاندی که په ما پورے خندیږی

○○○○○

څوچه د هغو سترګو کجَل نه شم
داسې به سپرَلې نه شمه ګُل نه شم

هر څه رانه واخلئ خو د مینې درد
دا نازبین ایسته مې د کوګل نه شم

دا دور د زر او زور دی دور مرګ
زه به ځان ویریږمه پاګل نه شم

وژنی مې د خپله لاسه خپل ارمان
ګل به ستا د څڼو د اوربل نه شم

نو به د هر چا په خوله سندره شم
یو ستا به کرکړنه یاره خپل نه شم

درد مې جوړ سیال د زړګي اوځي
ځکه خو لیکلی اوس غزل نه شم

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نېټ

بیا مې د غنو شپول د یاد په ګل دره وریږي
بیا مې په زړه هغه لښې لښې بانړه وریږي

په یوه لپه اوښکو څوک د جانان غیږ ته رسي
د محبت په لار مدام د وینو سره وریږي

دا د مجنون د زړه جنون د فرهاد مټه غواړي
خوندا و خمار شینکي خالونه هسې نه وریږي

PUKHTO.NET
پښتو کتاب نیټ

د وطن کاڼي بوټي زنګ نیولي زیړ مخونه
لکه بارود چې په کابل او تاتره وریږي

چې د نظر د شغلو پرق به یې زړګي ورلتول
سیال نن د هغه سترګو نه اور نه وریږي

○○○○○

○

مونږ دلسے لیونی یو چه صَفا لاړے ساتُو
که اُوسو په تیارو کښے خو رڼا لاړے ساتو

تَر اوسه انتظار وو دَ هغو مَلالو ستړګو
دَ دے نه پَس په چاته او دچا لاړے ساتو

نُور خوک دی په دَ ګلی په دَ چم کښے یه جانانه
دَ ستړګو کښے قربان مونږه خوستا لاړے ساتو

جَهان دَ تنګ بَدل شو که معنیٰ دَ درد بَدله
مُونږ تاته په هَر حال کښے به هُم ستا لاړے ساتو

دا زړُونه که مو تښتی دَ غمه چُوری زرے یو
هَچا سَره په مِینه په خندا لاړے ساتو

قاتل که مے دَ ځان دے مسیحا مے هُم دَ ځان
سَیال دَ جانان به خامخا لاړے ساتُو

○○◯○○

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

چې مې د ژوند د بې وسې وسوسې خوا تر خوا شي
د زړه د درد څپې مې لا سېوا شي

مونږ ته یقین د سبا زېړې مونږ ژوندي په امید
په بوږنوونکو تورو شپو کښې به یو ځل رڼا راشي

هغه چه غوږ نه پرې کول ورته هم تیرې ښکاري
ستا د جبین کرښو ته هسې د چا وار خطا شي

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

څوک د ښائست هر څه معنی چه کوي ښه کوي خو
زما په خیال کښې چه خوږې سترګې په چا بچا شي

هغه د غرۀ هسې پېښې چه لري هغه خلق
زړې زړې ستا د ښائست په یو وړۀ ادا شي

ستا دَ ستم د لظر پرے نه اوځي
ژوندے دَ خاورو په سر پرے نه اوځي

ستا اداګانو له معنے راکسوی
نمر دَ رنګونو په غر پرے نه اوځي

دا دَ خوښونو بنډ دَ مینے کیلے
دَ چا په سترګو کښے ور پرے نه اوځي

رنګ ته ښائیست ته وار خطا لظره
دَ ګل په مخ کښے پرهر پرے نه اوځي

ژوندے دِ ویر وحادثو زپلے
ستا لے لوئیږي کهنډر پرے نه اوځي

○ ○ ◯ ○ ○

ستر ګې دِ ، تورې دي، خوابږه دي پکښې
نږه دِ سنګین هسې بانړه دي په کښې

مَنم په دې کالي کښې ډیر ښکلې دي
زمونږ ستا سترګو ته کاتهٔ دي په کښې

ستا دَ جبین دَ رڼړا کالو نه زار
دَ سترګو کاتي مې راښتهٔ دي په کښې

دا ستا دَ سترګو غږیو نیولی کاته
ننَبې دَ دې وَطن سپیرهٔ دي په کښې

زما په سترګو کښې نور څه دي اشنا
یو ستا دَ مخ دَحیا سره دي په کښې

سترګې شته، حُسن شته، خو هغه نشي
سیالۍ ډیر څه دي خوڅه دي په کښې

ژوند به وي رنګين به وي سپرلے سحر
ماته وږمے اوړے د غنچے سحر

دا سپيره ځواني به د رله ناوے کړي
را به شي يو ګل هغه زلمے سحر

ستا د سپينو ليچو د بنګړو په شور
ماتے ليونو کړے زولنے سحر

يو د سترګو جنګ به وي روا خو لئور
امن مو پيغام دے د هغے سحر

درد او حسرتونه به د ډلو ډلو
راوړي زمونږ غولي ته پردے سحر

ډيرے شوګيرے مو پسے کړے دي
څنګ به رنړا کيږي نه د شپے سحر

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زړې زړې ارمان ژوند دے
چرته سیلۍ چرته طوفان ژوند دے

هلته د ژوند نامه خوږه سندره
دلته د ژوند په سر تاوان ژوند دے

زمونږ د وینو د ابشار په غولو
چپې چپې روان ژوند دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ستا د بڼو د تصور غیږه کښې
د غمو شپېلو کښے هم د ځان ژوند دے

زه چه په قوم وطن کښې اوسم هلته
د هر څه نه ارزان ژوند دے

سیال زړونه هلته نه دردیږی
چرته چه مینه د انسان ژوند دے

○

که لیونی تاله ترغه راتول شي
زمونږ به تسنے وسنے زړه راتول شي

چه ما او تا وینی لمبه لمبه شي
رقیبان ټول په همامه راتول شي

ستا د دیدن د تودے غیږ توبه
د شوندو سره ته د خواږه راتول شي

د کلی ټول خلق په تامیئن دي
څوک به زما په وره خله راتول شي

ستا چه د سترګو نه غم نه شو کوږی
زمونږ د زړه پرهر به څه راتول شي

○ ○ ◯ ○ ○

په ما کښې سوچ په ما کښې توان پیدا کړی
د ژوند تندک په ما کښې ځان پیدا کړی

چه د مغلو په کهنډر کښې اوسی
پښتنې څنګه خوشحال خان پیدا کړی

په خدلے مَیَن خلق څه کم خو نه دی
راله به ویر د درد سامان پیدا کړی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

ستا به دے زلفے بادول عادت وی
د چا په ژوند کښې به طوفان پیدا کړی

یو د ستا لے دنیا ویرانه به شی
خلق به ځان له نور یاران پیدا کړی

چرته چه رَوغ خلق سنګسار کړي خلق
نو لیوني به څنګ قلار کړي خلق

دَ ژوند خبرې په چا ښې نه لګي
په دې ګناه به دِ په دار کړي خلق

زاهد ته اووایئ چه خُلّه بنده کړي
دَ ژوند دَ نُوم نه به ویزار کړي خلق

ستا دَ کوڅې دَ کتو سترګې اوشوې
دَ رقیبانو په خُلئ کار کړي خلق

دَ دیدن وږي خلق چرته لاړل
دا دَ دوډۍ وږي خو قار کړي خلق

په تش دِیدن دَ چا نه څه رِژیږي
په نه خبره به انکار کړي خلق

سیال په دومره حادثو کیږي نادان
یوه واقِعه نیمه هوښیار کړي خلق

PUKHTO.NET

